Day:________ Date:________

## سوال ۵:- خوشحال خان خټک

خوشحال خان خټک د پښتو ادب کښې یو لوئې شخصیت دې. هغه په سرائې اکوړه کښې شهباز خان کره پیدا شوې په 1022 هجری کښې. پښتو دپاره چې سومره کار هغه کړې دومره بل هیڅ شاعر نه دې کړې. خوشحال خان په قلم هم استعمالول او د تورې سره هم مینه وه. هغه د ښکار شوقین هم وو. دادب داسې اړخ نشته چې هغه پکښې ټیک نه وي کړې په هر مضمون ئې کتاب لیکلې په هغوې کښې بازنامه، طب نامه، سوات نامه وغیره مشهور دي.

### د پوهانو په نظر کښې

1) دوست محمد خان:-

دوست محمد خان وائي چې د انساني فکر داسې اړخ نشته چې خپل شاعری کښې هغوې عکاسی نه وي کړې.

2) میجر راورټی:-

میجر راورټی وائي چې په هغه شاعری کښې د مغرب شاعرانو په شان فراواني ده او په هر مضمون ئې طبع ازمائي کړې

Scanned with CamScanner

Day: Date:

3) سر اولف کېږو:-

سر اولف کېږو وائي چې نژ اوسه د پښتو
زړونو کښې هغه شاعري نقش ده

## قامي شاعري

(1) د مغل د یاره مې توره وهلې
پښتنو راته کړې ډېرې سختلې

په دې شعر کښې خوشحال خان وائي چې چې
د مغل د یاره په جنګ کښې پښتنو خلاف اوجنګیدو
او د دې وجه پښتانه ته ډېر خفه شو او
یوسفزي هم د هغه خلاف شو.

(2) اطاعت ده اولوالامر ځکه نه کړم
چې بادشاه د زماني په زړه کافر دي

په دې شعر کښې هغه وائي چې هغه د اورنګزیب
اطاعت نه کوي او هغه بادشاه نه مني. خوشحال
وائي چې هغه په زړه کښې د پښتنو خلاف
ډېر نفرت دې او په زړه کافر دې ایمان پکښې
نشته.

(3) چې په زوم پښتنو خوشېږي خوشحالیږي
اورنګزیب هسې بادشاه دې د اسلام

په دې شعر کښې شاعر وائي چې اورنګزیب
د پښتنو په ظلم باندې خوشحالیږي. بادشاه
تنقید کوي چې داسې سړې د اسلام بادشاه
نه دې. ځکه د هغه خلاف شو.

# رزمیه شاعري

1) اتفاق به پښتنو کښې پیدا نشي
ګني ما د مغل ګریوان پاره کړه

خوشحال خان وائي چې د پښتنو کښې اتفاق نشته
هغوي یو بل سره جګړې کوي. که دا یو ځائے
وي او اتفاق وو نو هغه به په مغل خلاف جنګ
کښې کامیاب شوي وو.

2) په جهان د ننګیالي دي دوه کاره
یا به وخوري ګکرې یا به کامران شي

دې کښې خوشحال خان د ننګ و همت خبره کوي.
هغه وائي چې په جنګ کښې ننګ او همت ساتل
ضروري دي. اخر یو نتیجه به راوزي چې یا به
کامیاب شي او یا به وبیلي.

3) بل هیڅ لیدلے نشي په دا مینځ کښې
یا مغل زر مینځه ورک یا پښتون خوار

خوشحال وائي چې بله لار نشته د پیره کښې
او د مغل د مینځ هغوي به جنګیږي. دواړه یو
ځائے نشي اوسیدلي. یا به مغل ختمیږي او
بیلي او یا به پښتون خو دواړه به نه
پاتې کیږي.

Day: ______ Date: ______

# عشقیه شاعري

1) په درست جهان به نه وي زما غوندې رسوا بل
ورځم توره و ښکلي چې مئین واورم په تا بل

په دې شعر کښې خوشحال خان وائي چې د هغه په شان نور څوک رسوا نشته. چې هغه واوري چې د هغه جانان ساتي نور څوک مئین دي نو هغه بیې توره راوباسي.

2) یا به ستا زلفې و نسیم په لاس کښې
یا به سر ورباندې بالکل دوه وینا لوي.

خوشحال خان وائي چې هغه د خپل جانان زلفې نیول غواړي. په دې هکله هغه هر کوشش کوي یا خو دې دوران کامیاب شي او یا به پاتې شي. خوشحال د مینې خبره یکښې کوي.

3) یا به سر د خپل ورمینز د وینو رنګ کړم
یا بنګال کړم ستا شونډې ملوکي

په دې شعر کښې هم خوشحال خان خپل مینې اظهار کوي. هغه وائي چې هغه د خپل جانان شونډې بنګلول غواړي او هغې د پاره هر سه کوي. په شعر کښې د وینو او شونډو تشبیح کوي.

Scanned with CamScanner

Day:______ Date:______

# اخلاقي شاعري

1) که تکیه ده خو تکیه دیوه خدائ ده
جې په بل ئې کړه څه حال لري تکیه

خوشحال خان د تکیه او توکل په هکله خبره کوي. هغه وائي چې د انسان باندې توکل نه کېږي بلکه انسان ته ما پکار ده چې خدائ باندې يقين ساتي. نور په هيڅ شي کې هم يقين نه دې پکار

2) جې د خلقو نیکخواهي لرې په زړه کښې
مبارک شه بادشاهي لرې په زړه کښې

خوشحال خان وائي چې انسان ته پکار ده چې د نورو نیکخواهي لري. چې د بل د پاره خه سوچ کوي. داسې کس د ېر صفا زړه وي او لکه چې په زړه بادشاه وي.

3) جې محنت په ځان قبول کا راحت مومي
رنج او گنج سره دا ~~وواړه~~ دواړه دي تړمي

په دې کښې خوشحال د محنت خبره کوي. هغه وائي چې کم کس محنت کوي نو هغه کاميابيږي راحت هغه وخت راځي چې محنت وکي. رنج او درد انسان ته راځي که هغه محنت نه وي کړي

4) جې دروغ تر خولې وباسي کله خوله وه
جې رښتيا تر خولې وباسي خوله هغه

Scanned with CamScanner

Day: Date:

په دې شعر کښې خوشحال خان د رښتیا ویل اهمیت بیانوي. ~~هغوی~~ هغه وائي چې رښتیا ویل پکار دي پر انسان ته. په دروغو خوله نه جوړیږي بلکه په رښتیا ویلو یو انسان عزت جوړیږي.

د خوشحال خان د پښتو ادب کښې ډیر بهو ډیر اهم کردار دی. هغه پښتو ژبې دپاره ډیر ډیر کار کړي. د ادب هر اړخ کښې شاعري کړې ده او په هر مضمون لیک کړیږي. هغه شاعري ئي هم ډیر جوش و جذبې سره یادیږي.

Scanned with CamScanner

Day:________ Date:________

## Q6:- رحمان بابا

رحمان بابا د پښتو ژبې تاریخ کښې یو اوچت نوم دې. دهغه شاعري د نرینه، زنانه، زاړه او ځوانان ټولو کښې ډیره مقبول ده. د رحمان بابا ابتدائي ژوند باندې ډیر معلومات ~~نشو~~ نشته. څومره مقبولیت رحمان بابا ته حاصل دې دومره نور هیڅ شاعر ته نه دې حاصل. د هغه ټولو ته زیات شعرونه د منلو ته اوریدلي دي. چي څوک ~~هغه~~ هغه شاعري لولي هغه ته نیولادي چي دا زړن وخت شاعري ده.

### پوهانو په نظر کښې:-

**1) دوست محمد خان-**

دوست محمد خان خپل کتاب "رحمان بابا" کښې وائي چي د رحمان د غزل ژبه عام طور سره ډیره صفا ده، ساده ده او بې روانې، یکښې. هغه خپل خیالات ډیر ښه طریقې سره بیان کړي.

**2) سید رسول رسا-**

سید رسول رسا وائي چې د رحمان بابا شاعري څومره ځله سړي لولي دومره هغه یو نوي نوي انکشاف کیږي. هر ځل یو نوي معنی ترمخ راځي.

Day: Date:

# مختلف اړخونه شاعري

1) سخي هر يو خدائ دوست دي
ولو کان فاسقا
هر بخيل خدائ دښمن دي
ولو کان زاهدا

په دې شعر کښې رحمان بابا وائي چې هر سړي ته پکار دي چې سخاوت کوي ځکه چې خدائ داسې کس ډير خوښ وي. او چه کم کس بخيل وي او سخاوت نه کوي هغه خدائ سره نزدې نه شي راتلې.

2) موړ به نشي په حرص بې قناعته
اې د تخت اورنګزيب ناسته ګدايه

په دې شعر کښې رحمان بابا وائي چې حرص يو انسان د پاره نقصان لري. څوک هم خپل حرص نشي پوره کولې. ګويا که هغه اورنګزيب په تخت هم ناست وي نو هغه حرص نه ختميږي. ځکه دې نه ځان ساتل پکار دي.

3) که څوک انصاف د لاس کښې درکا
خپل تمو او د بل اس به برابر کړي

په دې شعر کښې شاعر وائي چې کله د انصاف کولو په ځائ کښې نو پکار ده چې بې انصافي سره فيصله نه کړي. انصاف

Scanned with CamScanner

Day:________ Date:________

ټول ډېر ګران کار دی او پکار ده
چې خوک خومره حم انصاف کولی شي
دومره وکي.

4) د دنیا خندا یوه شیبه ده
خو د مرګ نه وروسته حساب او بزدي

په دې شعر کښې رحمان بابا وائي چې
دنیا فاني ده. ډېر کم وخت مجموعه ده
خو مرګ نه پس یو ډېر لوی حساب
باقي دی. ځکه پکار ده چې خپل حساب
ته ځان تیار ساتل ضروري دي. او خوک
دنیا کښې ځان ورک نه کي.

5) زه د عشق په بازار کښې فقیر یم
د زرو مال سودا مې هیڅ نشته

په شعر کښې رحمان بابا د عشق او روحاني
فکر خبره کوي. خپله ځان ته یو فقیر وائي
د خدائي مینکې او وائي چې خپله د زرو
مال خبره هیڅ پکار نشته. رحمان بابا د دنیا وی
مال پسې زور کولو ته خه نه کوي او روحاني فکر
عکاسي خپل شاعري کښې کړې ده.

6) غرور له ځان سره خوک نه وړي
انسان خاورې کښې نوم پاتې کېږي

رحمان بابا وائي چې انسان ته غرور نه دی
کول پکار. انسان فاني دی او خاورې شي

څو مرګ نه یې هغه نوم ژوندی وي
او خلک ئې یادوي. ځکه بهتر ده
چې څوک غرور سره کار نه کړي.

7) زړه د انسان د خدائ کور دی رحمانه
~~زړه پاک کړه چې~~
چې په زړه کښې کینه وي خدائ نه اوسي

رحمان بابا وائي چې خدائ هغه زړه
کې پاتې کېږي چې کم صفا وي. کم کس
کښې چې کینه وي یا غلط صفات وي
نو هغه ځائے کښې خدائ نه راځي. ځکه
بهتر ده چې خلک په ځان کښې ښه
صفات پیدا کي.

8) بې عمل که کتاب کېږدي په سر څه شو
ګویا ایښې ئې تر پښو لاندې کتاب دی

رحمان بابا د علم او عمل جوړه جوړه کوي.
هغه وائي چه صرف علم حاصل کول سره
کار نه کېږي. یو انسان نه بهتر ده
چې هغه علم خپل عمل کښې ښکاره کوي
ځکه چې صرف علم هیڅ فائده نه کوي.
علم او عمل یو ځائې بهتر دي.

رحمان بابا شاعرۍ کښې یو صفائي او
رواني ده په دغه وجه ډېر مقبول شاعر
دی. ټوله شاعرۍ کښې د ښه او بد نه
او دي. د عام زندګۍ یو عکاسي کوي
ځکه هر انسان ته ښکاري چې دا زن
لیکلي شوي. یو ډېر مقبول شاعر پاتې
شوی.